مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال ۲۰۲۵/۱۰/۰۳

# د استبداد تاریخ، د ادیانو سیاسي تفسیرونه

## بګرام او اینټرنیټ

د واکساتنې لپاره ځواک کارول د بشریت په تاریخ کې لرغونی عادت و. لومړنیو واکمنو د خپل ځواک د ساتنې لپاره فیزیکي او قهرجن ځواک کاراوه، خو له دې سره هم مهال په خلکو کې له استبداد څخه د ځانخلاصولو هڅه هم ځنډنه ده.
د بشریت په تاریخ کې د (واک) او رښتې (حق) اړیکه تل په همدې دیالکتیکي مخامختیا کې پېژندل شوې ده، واکمن غواړي واک وغځوي او خلک له واکمنو څخه د خپلو حقونو خوندي کول غواړي. د خلکو له حقغوښتنې سره د واکمنو ځواک کارول هم پیچلي کېدل، دواړو لوریو فیزیکي زور او عقلاني ځواک کاراوه. یو مهال چې نور نو یوازې مجرد ځواک خلک ویرولای نهشول د اساطیري باورنو پینه په منځ کې راننوتله او خدایګوټې رامنځته شول. لومړنیو واکمنو ځانونه خدایان ګڼل. د مصر فرعونان په دې برخه کې مشهور دي، خو د سیاسي واکمنو له خوا ځانونه خدایان ګڼل په بابل، یونان، هند او نورو لرغونیو سیمو کې هم دود و. پېړۍ پېړۍ داسې تېرې شوې، چې یو شمېر هوښیارو وګړیو پر ولسونو په دې نامه واک چلاوه، چې ګواکې خدایان یا د خدایانو زامن دي.

ورو ورو کیسه بدلیدله او خلکو له واکمنو خدایانو د خدایي ډېرې نښې غوښتې. اساطیري دوران خپل ځای فیلوسوفیک دوران ته پرېښود. خلکو پوښتنې کولې او پوښتنو غوښتنې زېږولې. خلکو پوښتل: که واکمن خدای دی، نو ولې ناروغۍ له منځه نه وړي او تولو ته په تیاره ډوډۍ هست کولای نهشي؟ که یو خدایګوټې ونهکړای شي، خلک په نس ماړه او په تن پټ کړي، نو کمزوری دی او خدای خو کمزوری نه وي. په فیلوسوفیکه دوره کې واکمنو هم د واکساتنې توجیهات بدل کړل او خلکو ته یې وویل:

موږ د خدایانو استازي یو. ستاسو او د خدایانو ترمنځ اړیکه ټینګوو، دا چې خدای ستاسو خبره مني که نه؟ خو موږ که په واک کې اوسو، نو خدایان به خوښ وي. په نوې زمانه کې چې د فیلوسوفیکو پوښتنو په پایله کې پوهنې تدوین شوې او بشریت علمي دوران ته ننوت، د خدایانو په استازولۍ د واک چلول سخت شول او نور نو پوښتونکی او د پوهې په لټون پسې راوتلی بشریت په اسانه غولېدلای نهشو او خلکو حقیقتونه پېژندل. دا مهال واکمنو هم د واکساتنې هڅې و چلونه بدل کړل. دا مهال د واکمنو او مذهبي مشرانو ترمنځ یو پټ اتحاد رامنځته شو، مذهبي مشرانو به د واکمنو د واکساتنې لپاره دین کاراوه او واکمنو به مذهبي مشران د واک په خوندونو، پانګې او شتمنۍ کې شریکانول.
د مسیحي نړۍ زرګلنه تیاره دوره همداسې یوه دوره وه، کلیسا او پاچاپانو اندیوالي جوړه کړې وه، پاچاپانو به د خپل واک مشروعیت له کلیسا اخیسته او بیا به کلیسا د پاچا د لښکر او له انجیل څخه د انحصاري تفسیرونو په زور پر ولسونو چپه مېچنې ګرځولې.

د بیازېږدا (رینیسانس) په دوران کې د واک د مشروعیت معیار له کلیسا څخه د خلکو د اکثریت ارادې، حقونو او قوانینو ته واوښت. د ټولنیز قرارداد اصل رامنځته شو او په دې توګه د خلکو او واکمنو ترمنځ دیالکتیکي مخامختیا د خلکو په ګټه درنه شوه. د دې دورې په پایله کې له واکمنو څخه د خلکو ویره ورو ورو سرچپه شوه. په نوې زمانه کې واکمن له خلکو ډارېدل.
په ګڼو ادیانو په تېره مسیحت کې ګڼ دیني متون د همدې لپاره راوپنځېدل، چې د واکمنو د ځواک کارول توجیه کړي او واکمنیو ته مشروعیت وبښي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د ديني اصلاح د زماني يو منطق په دې حقيقت د خلکو پوهېدل و، چې په انجيل او عقيدوي متونو کې نه سياست شته، نه اقتصاد، نه اداره، بلکې دا يوازې عقيدوي متون دي.

په يويشتمه پېړۍ کې د ټولې نړۍ پرمخ افغانستان يوازينی هېواد دی، چې واک يې د داسې ډلې په لاس کې منحصر دی، چې د خپلې واکمنۍ د غځولو او پر خلکو د استبداد چلولو لپاره له فقهي - عقيدوي متونو څخه سياسي تفسيرونه کوي.

د دوی ستونزه دا ده، چې د يوولس يا دولسو پېړيو پخوانۍ زمانه کې د انسانانو په لاسو د ليکليو فقهي- عقيدوي متونو د متضادو تفسيرونوا و تعبيرونو له مخې د يويشتمې پېړۍ ژوند ته معيارونه لټوي. البته دا هغه متون دي، چې هغه مهال يې د خلکو د ژوند لپاره قوانين ټاکل، په حقيقت کې دا د دين اصلي سرچينې (نصوص) هم نه دي، بلکې له اصلي سرچينو څخه په الهام داسې پنځول شوي او تعبير شوي اصول او پرنسيبونه دي، چې شاوخوا زر کاله پخوا په بغداد، ماوراالنهر، د افريقې شمال، خراسان روسته بيا د هېند په نيمه وچه کې ليکل شوي دي.

ستونزه يوازې د زماني واټن هم نه‌ده، بلکې له متونو څخه سره متضاد او متناقض تفسيرونه او تعبيرونه دي. د همدې متضادو تعبيرونو پربنسټ ګڼ مذهبونه او عقيدوي ډلې رامنځته شوي، چې پخپلو کې سره په جنګ دي. له افغانستان پرته نورو ټولو اسلامي هېوادونو دا ستونزې حل کړي دي او خپلې ملي و سياسي چارې يا په عرفي (دوديزو) او يا هم په موډېرنو سياسي سيستمونو کې د تدوين شويو قوانينو او ټولنيزو قراردادونو له مخې تنظيموي. په افغانستان کې دا ستونزه څکه ورځ تر بلې جدي کيږي، چې واکمن د پورته ياد شوي ديالکتيکي تاريخ څو ځانګړني لري:

- په ځينو برخو کې ځانونه د خدای او د خدای د دين وارثان او استازي ګڼي، چې د ديني متونو د تفسير و تعبير حق يوازې د ځان بولي.
- هر هغه څوک چې د دوی د واک او د تعبير و تفسير انحصاري صلاحيت نه مني، کافر يې ګڼي.
- له اصلي سرچينو څخه پېړۍ پېړۍ روسته مشتق شوي يا د هغو پر بنسټ ليکل شوي دويم يا درېيم لاس متون داسي تعبيروي، چې دوی يې غواړي. د عثماني امپراتورۍ د دوو ټولواکمنو کيسه ده؛ د يوه يې قهوه بده ايسېده، څښل يې حرام اعلان کړل. د بل خوښېده، بېرته يې حلال کړل. په دې توګه وينو چې همدغه دويم لاس متون هم د واکمنو د غوښتنو، ګټو او واک‌غوښتنې د استبدادي چلند تابع دي.

د افغانستان د مستبدو واکمنو يوه ډله د نجونو تعليم روا بولي، بله يې ناروا. يوه ډله عصري پوهنې مباح ګڼي، بله يې فرض بولي، بله ډله يې حرامه ګڼي.

- که په شته متونو کې د خپل واک او ارادې لپاره څه ونه‌مومي، متن توليدولای هم شي. په پاکيستاني مدرسو کې دا واک ورکړل شوی دی، چې يوه مسئله دې تخليق کړي ولو که په تېرو متونو کې يې صراحت نه وي.
- له فقهي اصطلاحاتو څخه سياسي تعبيرونه يوازې د واکمنو حق دی، بل څوک يې کړلای نه‌شي او که څوک يې وکړي هم نه‌منل کيږي او که ټينګار پرې وشي، نو تکفيريږي.
- د تفسير و تعبير له دغه صلاحيت سره د ټوپک، استخباراتو، نړيوالو نيابتي اړيکو او په شخصيتونو کې د ګنو رواني عقدو د تراکم له کبله د شديدې بې‌رحمۍ او بې‌عاطفه‌ګۍ زور هم ورسره ملګری شوی او داسې توره استبدادي دوره يې رامنځته کړې، چې معاصر تاريخ کې يې لږ سارې موندل کيږي.

څلور کاله چې د واکمنې ډلې اړتيا وه، انټرنيټ حلال و، خو په يوه اونۍ کې حرام شو او پر څلوېښتو ميليونو افغانانو يې وتاړه.

د خپلو بهرمېشتو لونو لپاره يې ښوونځي و پوهنځي روا دي، خو د افغانستان‌مېشتو بې‌وزليو نجونو لپاره حرام دي.
د دوی لپاره تلويزيون، کمره، عکس او ټوليزې رسنۍ روا دي، خو د خلکو لپاره ناروا دي.

ځينې پلويان يې لا دا هم زمزمه کوي، چې بګرام بايد امريکايانو ته ورکړل شي او په وړاندې ورڅخه مرستې و ملاتړ ترلاسه شي. دوی وايي، چې د دې لپاره په کتابونو کې روايتونه شته.

غميزه يوازې دا نه ده، چې دوی له متونو څخه سياسي ګټنه کوي او خپل واک غځوي. د تکفير په توره خلک وېروي او ځانونه د خدای په استازولۍ د واکمنې وړ ګڼي.

اصلي غميزه دا ده، چې خلک لا هم د دوی له سياسي – استخباراتي تکفير څخه ډارېږي او د ځان‌خلاصولو او خپلو حقونو د ترلاسه کولو لپاره ګډه و ګڼ‌ميليوني هڅه نه‌کوي. خلک له واکمنو او له ټوپکو نه، بلکې د واکمنو له تکفير څخه ډارېږي او په يوه لوی زندان کې د شاقه شکنجو ژوند تېروي.

يو فرهنګي بدلون ته اړتيا ده، خلک بايد د واکمنو، متونو، تکفير، تعبيرونو او تفسيرونو له ماهيت او حقيقت څخه خبر شي او استبداد وپېژني. که دوی دا هرڅه وپېژندل او په ماهيت يې خبر شول، خپل حالت په خپله بدلوي.

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ